مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۹/۰۴

# لنډۍ، د ژبتولو ستونزه

## ۲۸۹مه برخه

**په ډک محفل کې غېږه راکړه**
**چې د رواج زولنې ګډې وډې شینه**

**اختر د ټولو مبارک شه**
**د هغو مه‌شه چې انسان ازاروینه**

**منم چې بده ورځ راغلې**
**دلې ـ دلې غمونه زړه کې ګرځومه**

احمدولي اڅکزي لکه تل نن (۲۰۲۳/۱۲/۱۵) هم په خپل فیسبوکپاڼه کې یوه نوې خبره او هغه یې هم د لنډیو په باب کړې ده چې زه یې له مننې سره‌مل، دلته راخوندي کوم:

«مېرمنې، لنډۍ او داستانونه...

په پښتني ټولنه کې بنایي تر بل هر وخت اوس مېرمنې زیاتې حاشیې ته کړل شوې دي. که ورځنۍ ژوند، علم، فن او که هنر دی، پکښې د مېرمنو لپاره ځای موندل او د ودې او پرمختګ امکانات ترلاسه کول هغه د انګریزي په اصطلاح یو «مشن ایمپوسیبل» یا یو ناممکن مدیریت ته ډېر ورته کار دی.

خو د ټولو محدودیتونو، محرومیتونو او بې عدالتیو باوجوده بیا هم مېرمنو د پښتو ژبې په ژوندۍ پاته کېدو، وده کولو او په بډایه کېدلو کې تر ټولو لوی او تر ټولو زیات حیاتي خدمتونه کړي دي. دغه خدمتونه له ماشوم ته پښتو ښودلو څخه نیولې بیا تر شفاهي ادبیاتو پورې غځېدلي یوه ډېره پراخه ساحه ده. زما په فکر د پښتو شفاهي ادب زړه او شهرګ یعنې لنډۍ یا ټپې و دغې ژبې ته د پښتنو مېرمنو هغه تحفه ده، چې بې بها ده. د مېرمنو له لاسلیک څخه برخمنه هره یوه لنډۍ په ځان کې یو داسې لوی او فصیح داستان او آن داستانونه رانغاړي چې سارى نه لري.

خدای دې زموږ مېندې، خوېندې او لوڼې راته تل خوشاله، آبادې او بریالۍ لري او الله دې موږ ته د دوی په حق کې د عدل کولو عقل، فهم او د عملي اقدام وس راکړي. آمین»

د د لنډیو د دې برخې لپاره دا لنډۍ راټولې شوې دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تا ليوني كارونه وكړل
لوفره ياره پلار مې كله دركوينه

زما اختر ته جوړه نهسته
تا د يوې پر ځاى ځلور گنډلي دينه

په ډک محفل كې غبړه راكړه
چې د رواج زولنې گډېوډې شينه

په سيند كې ژر كښتۍ لاهو كړه
سبا اختر دى د خپل يار سلام ته ځمه

اختر د ټولو مبارک شه
د هغو مهشه چې انسان ازاروينه

اختر د ټولو مبارک شه
ډېر د هغو شه چې په بل وطن كې دينه

سپينه جوړه ستا فرمايش و
كنه وړوكى عيد د تورو جامو وينه

كور دې خالي له غمه مهشه
پر ما راغلې ورځې ستا د لاسه دينه

چې مكتبې ته مې ورنهكړې
كتاب به يې ورک وي ما به گرده تاووينه

منم چې بده ورځ راغلې
دلىَ ـ دلىَ غمونه زړه كې گرځومه

د بدې ورځې بد ساعت دى
ځكه د وير پيټى په زړه كې گرځومه

په نيمه شپه دې زړه را ډک شه
په نيمه شپه مې سترگې ډنډ ولاړې دينه

پر خولې به غټ برغولى كېږدم
ستا د جفا به چا ته نه وايم حالونه

جانانه ومې پېژندلې
د ډېرو يار يې په تا هسې غلط ومه

په وعدو ټينگ اوسه جانانه
د خلكو خولې به تورې خاورې ډكوينه

كه د پيزوان خاطر دې نه واى
تـــا بــه زمــا د مچو زور لـيدلـى ونــه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولــئ

**د خویندو مینه بې مطلبه**
**د ورونړو مینه تر مطلبه پورې وینه**

**خبر دې ګډه وډه راوړه**
**حرام زاده ریباره بیا دې نه لېږمه**

**د زنې خال دې مبارک شه**
**تا به د زړه په ځیګرخون وهلی وینه**

**د جانان غمه نور مې پرېږده**
**شپه نیمایي شوه، مزدورۍ ته سبا ځمه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ